مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اجمل تورمان

۲۰۲/۱۱/۰۲

زه، کیسې، چا او چا ویل

زه کیسې نه شم لیکلی، یو دوه مې لیکلي خو له شرمه ورکې دي. البته د ماشومانو لپاره مې لیکلي، هغه هم هغه مهال چې نورو ورته نه لیکلي، چې نورو شروع کړې د هغو رنګ هم خړ شو.
له کیسه لیکلو بدر صیب ډار کړی یم، کیسه باید داسې وي، کیسه باید هسې وي، او زه بیا طبعیتاً ازاد فطرته سړی یم، ډیره اصول او اصول بازي مې نه خوښیږي .
تر بدر مخکې بیا د باز محمد عابد د کیسو په تولګه لیکنه راته بلا ګرځېدلې وه، هغه هم یوه کیسه لري...
خو کیسه لوستل مې خوښیږي. ناولونه هم.
د اجمل پسرلي کیسې ډیرې لولم او په خوند او دقت یې لولم. خوښیږي مې. هسې دا وروڼه ټول کیسې لیکلي خو د اجمل کیسې زه ډیرې لولم، یا خو مې ملګری دی ځکه او یا هم پراګ ته چې ځم د چایوو پیسې مې ورکوي، هغه به حلالوم. خو نه له شوخی هاخوا، اجمل پسرلی په پښتو داستاني ادب کې یو یاد نوم دی .
د اجمل ناول" تور بنګړی " هم خوند راکړی و، په هغه مې ورسره یوه جالبه مرکه هم کړې وه. ماته جالبه وه، نورو ته نه پوهیږم.
د اروابناد استاد شپون مې ټول ناولونه لوستي، د ځوانمیرګ نصیر جان هم، خدای دې جنتونه ځای کړي، هغه یو بل جالب کار کولو، ناولونه او کیسې به یې ځای، ځای له چاپ مخکې ماته رالیږلې چې ته وګوره دغسې مې لیکلي، څنګه دي؟ ماته به جالبه وه چې زه خو په کیسه نه پوهیږم نو ولې یې ماته رالیږي. بیا به د ده لوړ اخلاق مخکې راته ودرېدل او ځان سره به مې فکر وکړ، چې که څه یې هم نه، خو هغه ارزښت درکوي.
تر دې یو بله جالبه خبره لا دا چې، یو ورځ استاد شپون راته په مسنجر کې ولیکل، یو چا رانه د ښه نثر لیکونکو نومونه غوښتل د تا نوم مې هم ورکړ، ښه مې ورته وخندل.
تاسې به هم وایئ، چې د خاموشانو له خولې خپل صفتونه لیکې، څه وکړو ژوندیو کې خو څوک صفت نه کوي.
په تانده ځوانی کې مې بیا د امیرعشیري او نور دري ناولونه ډیر لوستل. نه پوهیږم فکر کوم لاوسون او سامسون وه که غلط کړي مې نه وي، دا کرکټرونه لا تر اوسه رایاد دي، چې د چا د ناولونو به وه.
په هر حال چې په کیسو، کیسه رانه اوږده نه شي، دا څو ورځې د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر نه د درنې خور ډاکټر شریف شریف د نوي چاپ شوي کتاب "چا او چا ویل" صفتونه ډېر اورم.
ورته مبارک دې وي.
اغلې شریف سره د کار کولو ویاړ لرم، هغه یو مهال د لنډ وخت لپاره په کابل کې د ازادي راډیو سرپرسته وه، زمونږ دفتر ته به ډیره راتله، نه زمونږ دفتر ته نه راتله، زمونږ په دفتر تېرېدله د اسدالله غضنفر او خالد نویسا دفتر ته تله، ځکه هغوی دواړو هم کیسې لیکلې او دې هم، په داستاني ادبیاتو یې ډیر بحثونه سره کول. زه به هغه مهال ورنه لږ برخمن شوم چې استاد غضنفر ته به مې د خپروني متن د اصلاح لپاره وروړ.
اغلې شریف د یوې درنې فرهنګي کورنۍ غړې ده، ورور یې عنایت شریف هم زمونږ همکار و، د هغه نثر لیکل هم ځانته یو څه ویل او ما به یې تل خپروني اورېدلی.
په هر حال، "چا او چا ویل" ته مې تلوسه ده، چې دا کتاب څنګه پیدا او ویې لولم؟ هسې که مې ډاکټر صیب دا لیکنه ولولي حتما یې رالیږي، په ما لورینه لري، خو چاته یې که لنډ د موندلو ځای معلوم وي، ادرس راکولو کې دې ځنډ نه کوي.
پښتو داستاني ادبیات دی خدای همداسې بډایه لري، دا چې نور محمد ترکی مې ډیر خوښیږي یو لامل یې هم همدا دی، چې کیسه لیکوال و.
یوه خبره رانه پاتې شوه، کیسه لیکل که یو هنر دی، کیسه لوستل بل هنر دی. او څوک چې دا دواړه لري نو هنرمند، هنرمند دی، ډاکټره شریفه شریف دا دواړه هنرونه لري.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ